AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۱/۰۵/۳۱

# مـه ځـه!




لـکه روح زمـا د زړه لـــه کـوره مـه ځـه
اور د مـیـنـې مـې دی بـل، لـه اوره مـه ځـه

لاس مـــې تـش زړه کـې د مـیـنـې خـزانـه ده
شور د مـیـنـي مې لا تـانـد، له شوره مه ځه

د مـور غـېږ په شانې بڼ مې درته جوړ دی
صــداقــت دی رفــاقــت، لــه موره مـه ځـه

کـــبـــر مـــه کـــوه د کـــبـــر پـای زوال دی
غـــوړوم درتـــه جـــولـــی، وګـــوره مـــه ځـــه

زړه دې نـه کـېږي پـوهـېږم تـه ضـدي يې
پښې دې نه ځي، ته په ضد په زوره مه ځه

۲۰۲۱/۰۴/۰۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ